UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د ستراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**په ۲۰۱۲ کال کې د افغانستان په جګړه کې د ملکيانو مرګ ژوبله کمه شوېده**

**کابل، د ۲۰۱۳ زيږديز کال د فبرورۍ ۱۹ مه نېټه:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه ماموريت (يوناما) نن په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خونديتوب په اړه د ۲۰۱۲ کال په راپور کې وويل: د افغانستان په وسلواله جګړه کې د ملکيانو مرګ ژوبله په تيرو شپږو کلونو کې د لومړي ځل لپاره کمه شوېده. دغه رپوټ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو له عالي کميشنرۍ سره په همغږۍ کې جوړ شوی دی.

يوناما په خپل راپور کې وويل چې د ۲۰۱۱ کال په پرتله د ملکي وګړو په مړينه کې ۱۲ سلنه ټيټوالی او د ملکي وګړو د ټپيانو په شمېره کې لږ زياتوالی راغلی دی. يوناما وايي چې په ۲۰۱۲ کال کې ۷۵۵۹ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې چې لدې ډلې ۲۷۵۴ کسان وژل شوي او ۴۸۰۵ کسان ټپيان شويدي. په ټوله کې په تېرو شپږو کلونو کې ۱۴۷۲۸ ملکي افغانانو په جګړه کې خپل ژوند له لاسه ورکړيدی.

په راپور کې په ۲۰۱۲ کال کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د ټيټوالي نسبت په جګړه کې د ښکېلو خواوو په ځمکنيو جګړو کې د ملکيانو لږې مرګ ژوبلې، د دولت ضد وسلوالو په ځانمرګي بريدونو کې ټيټوالي، لږ هوايي بريدونو او دې ته ورته نورو اقداماتو ته چې د ملکيانو د مرګ ژوبلې د راټيټولو په موخه د دولت پلوه ځواکونو لخوا ترسره شوي، ورکړل شويدی.

په عين وخت کې که څه هم يوناما پدې راپور کې ويلي چې په ۲۰۱۲ کال کې د وسلوالو ډلو د شتون او بيا راپيدا کېدو له کبله د ملکيانو په وړاندې مخ په زياتېدونکو ګواښونو، په ځانګړې توګه د افغانستان په شمالي او شمال ختيځو سيمو کې، شتون درلود. ملکي وګړي همدارنګه زده کړې، روغتيا او عدالت ته د هغوی په حقونو کې د لاسوهنې او په جګړه ځپلو سيمو او نورو هغو سيمو کې چې د دولت ضد وسلوالو تر ولکې لاندې دي ، د ګرځېدو راګرځېدو د آزادۍ په وړاندې د زياتو ګواښونو او ډارونو سره مخامخ وو.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازي ښاغلي يان کوبيش وويل:" مونږ په ۲۰۱۲ کال کې د ملکيانو په مرګ ژوبله کې د يوناما له لوري د ثبت شوي ټيټوالي هر کلی کوو.هغه وايي: د رواني جګړې بشري زيان اوس هم په نه منونکې توګه لوړ دی. د تعبيه شويو ناچاوديدونکو توکو څخه د ناقانونه او بې توپيره استفاده د دولت ضدو وسلوالو په واسطه اوس هم د ټولو څخه غټه وژونکې وسيله ده. په قصدی ډول د هغه ملکي وګړو په نښه کول چې فکر کيږی د دولت څخه ملاتړ کوي بله هغه بېلګه ده چې د نړيوال بشری قانون څخه ځرګنده سرغړونه ده. په ځانګړی ډول ځان مرګی بريدونه په شمول د هغه ماشومانو چې مغزی شستشو کيږي تر څو ملکيان ووژني چې دا خپله په ځرګنده ډول د اسلامي قوانينو څخه سرغړونه ده.

پداسي حال کې چې په ټوليزه توګه په ۲۰۱۲ کال کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله کمه شوې ده، دولت ضدو وسلوالو په مخ په زياتېدونکې توګه په ټول هېواد کې ملکيان په نښه کړي او د هغوی ژوند ته له کومې پاملرنې پرته يې بريدونه ترسره کړېدي. په ټوليزه توګه، په ۲۰۱۲ کال کې د ۸۱ سلنې ملکي مرګ ژوبلې پړه د دولت ضدو وسلوالو په غاړه ده.

۸ سلنه ملکي مرګ ژوبله د دولت پلوه ځواکونو د عملياتو په پايله کې اوښتې ده او د ټول ټال مرګ ژوبلې ۱۱ سلنه بيا د جګړې هيڅ لوري ته نسبت نه ورکول کيږي.

همدارنګه رپوټ موندلي چې له وسله والو شخړو څخه په پراخه کچه د نجونو او ښځو ځوريدل دوام لري. يوناما په ۲۰۱۲ کال کې د ۸۶۴ ښځو مرګ ژوبله ثبت کړې چې له دې ډلې ۳۰۱ يې مړې او ۵۶۳ نورې يې ټپياني شوې دي.

د يوناما د بشری حقونو د څانګې مشرې جورجيت ګنيان وويل: د شخړو په ترڅ کې د ښځو او انجونو د وژل کيدلو او ټپي کيدلو کچه په کال ۲۰۱۲ کی ۲۰ په سلو لوړه شوې ده. دا يو خواشينونکې حقيقت دی چې ډيرې دغه ښځې او انجوني هغه وقت وژل شوي يا ټپيان شوي دي چې په خپل ورځنې ژوند بوخت وو.

د یوناما د راپور پر بنسټ، د دولت ضد وسلوالو لخوا ۶۱۳۱ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې چې له دې ډلې، ۲۱۷۹ کسان مړه او ۳۹۵۲ نور بیا ټپیان شویدي. د ۲۰۱۱ کال په پرتله، په ۲۰۱۲ کال کې د دولت ضد وسلوالو لخوا د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې ۹ سلنه زیاتوالی راغلی دی. راپور زیاتوي چې په ۲۰۱۲ کال کې بیا هم د دولت ضد وسلوالو لخوا د ځمکنیو ماینونو کارول ملکي وګړو ته د تر ټولو لوی ګواښ پاتې دی چې په پایله کې یې ۲۵۳۱ کسانو ته مرګ ژوبلې اوښتې چې لدې ډلې، په ۷۸۲ بیلابیلو پېښو کې ۸۶۸ کسه مړه او ۱۶۶۳ نور ټپیان شویدي.

غیرقانوني فشاري چاودېدونکي توکي -- چې له کوم توپیر پرته د ماشومانو په ګډون د هر چا لخوا کله چې ورسره تماس ونیول شي یا پرې څوک یا کوم څه د پاسه تیر شي او یاهم کوم موټر مثلاً د ملکی وګړو میني بس پرې د پاسه لاړ شي چوي-- په ټولو عامه ځایونو کې لکه بازارونو، مارکیټونو او په ویجاړونکو عواقبو درلودونکو سړکونو کې چې د ملکیانو لخوا کارول کیږي، ښخ شوي وو. په راپور کې همدارنګه راغلي چې هغه ناچاودېدونکي پاتې شوي توکي چې په ځمکه کې ښخ کړل شوي خو چاودېدلي ندي، په عامه ځایونو کې د ملکیانو لپاره، چې په دوامداره توګه د مرګ، معیوبیت، سخت ټپی کېدو، د شتمنیو د ویجاړی او همدارنګه ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو ته د نه لاسرسي د ګواښ سره مخ دي، یو ناخوندي چاپیریال رامنځ ته کړیدی.

د ۲۰۱۱ کال په پرتله د دولت ضد وسلوالو لخوا د هدفي وژنو له امله د ملکیانو مرګ ژوبله، چې ۱۰۷۷ تنو ته رسیږي، ۱۰۸ سلنه زیاته شوېده. پدې مرګ ژوبله کې ۶۹۸ تنه مړه او ۳۷۹ نور ټپیان شویدي. د دولت ملاتړي ملکیان، ملکي دولتي کارکوونکي، علماء، قومي مشران، او هغه کسان چې د سولې او بیا پخلاینې په هڅو کې ونډه لري، د هدفي وژنو قربانیان وو. د هدفي وژنو له ډلې د ملکي دولتي کارکوونکو په هدفي وژنو او یا ټپي کیدو کې ۷۰۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی. په هدفي وژنو کې په ځانګړې توګه زړه بوږنوونکي موضوع د دولت ضد وسلوالو لخوا د میرمنو وژل وو چې په پایله کې یې د ۲۰۱۲ کال د جولای او دسمبر په میاشتو کې د لغمان د ښځو چارو رئیسه او مرستیاله وژل شوې.

یوناما په خپل راپور کې دا هم ویلي چې په ۲۰۱۲ کال کې د طالبانو د یو زیات شمېر اعلامیو سره سره چې خپلو غړو ته یې پکې د ملکي وګړو د خوندیتوب لارښوونه کړې وه، وضعیت اوس هم په خپل حال پاتې دي او هیڅ راز ښه والی پکې ندی راغلی. طالبانو د هدفي وژنو له لارې پر ملکیانو باندې خپلو بریدونو ته زور ورکړی او همدارنګه یې د غیرقانوني فشاري ماینونو په ګډون د چاودېدونکو توکو کارولو ته د قربانیانو له پېژندلو پرته ادامه ورکړېده.

آغلي کوبیش څرګنده کړه:" د د طالبانو د مشرتابه لخوا د هغو قوي اعلامیو هر کلی کوم چې په هغه کې یې له خپلو پلویانو غوښتي وو چې د ملکي کسانو ژوند خوندي کړي. خو د جګړې په ډګر کې په عملي توګه ددې لارښوونو او هدایاتو له پلي کولو پرته هغوی یوازې د کاغذ پر مخ کلمات پاتې دي. په ۲۰۱۳ کال کې یوناما یوځل بیا پر طالبانو باندې غږ کوي چې پر ملکیانو بریدونه و نکړي، د ملکي وګړو د خوندیتوب په هلکه خپلې کړې ښکاره ژمنې د ټولو طالب جنګیالو په کچه عملي کړي، د ملکیانو او قانوني هدفونو پر تعریف باندې د نړیوالو بشري قوانینو په رڼا کې له سره کتنه وکړي او د ځانمرګو بریدکوونکو او غیرقانوني فشاري او نورو ځمکنیو ماینونو او چاودېدونکو توکو ناتاره کاروني ته د پای ټکی کېږدي."

په ۲۰۱۲ کال کې دولت پلوه ځواکونو ( افغان ملي امنیتي او نړیوالو ځواکونو) د ملکي مرګ ژوبلې د راکمولو په موخه یو لړ اقدامات عملي کړل. د یوناما د شمېرو پر بنسټ، د ۵۸۷ ملکي کسانو د مرګ ژوبلې نسبت دولت پلوه ځواکونو ته شویدی چې پدې کې ۳۱۶ تنه مړه او ۲۷۱ نور ټپیان شویدي. دا شمېره د ۲۰۱۱ کال په پرتله ۴۶ سلنه کموالی ښیي. د ۲۰۱۱ کال په پرتله د نړیوالو ځواکونو د هوایي بریدونو په پایله کې د ملکي کسانو مرګ ژوبله هم ۴۲ سلنه راټیټه شوېده. په هوایي بریدونو کې ۲۰۴ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې چې لدې ډلې یې ۱۲۶ تنه مړه شوي او ۷۸ نور ټپیان شویدي.

په ۲۰۱۲ کال کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي کسانو مرګ ژوبله د ۲۰۱۱ کال د شمېرې سره برابره وه. د افغان ملي امنیتي ځواکونو په عملیاتو کې ټولټال ۹۶ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه چې ۳۳ تنه مړه او ۶۳ نور پکې ټپیان شوي وو. ددې مرګ ژوبلې ډېری برخه د ځمکنو جنګونو په پایله کې اوښتې ده.

یوناما په خپل راپور کې د افغان دولت او آیساف لخوا د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې د شمېرې د معلومولو او راکمولو په موخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ظرفیت د لوړولو د هڅو یادونه هم کړېده. د افغانستان دولت د ۲۰۱۲ کال د مې په میاشت کې د ولسمشرۍ د معلوماتو د همغږۍ په مرکز کې د ملکي مرګ ژوبلې د معلومولو ډله جوړه او ولسمشر د ملکي وګړو د خوندیتوب په موخه د ځان لپاره یو سلاکار و ټاکه. یوناما په خپل راپور کې دا هم ویلي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په مشرتابه کې ( د دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو او د ملي امنیت په ریاست کې) ګډه ژمنه شتون لري تر څو یې په پایله کې امنیتي اداري همغږۍ شي او پدې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه راټیټه کړي او د مرګ ژوبلې د پېښېدو په صورت کې اړوندې پېښې وڅېړي.

د ۲۰۱۲ کال په لړ کې یوناما د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره د سیمه ایزو افغان پولیسو د اغیزمنتیا په اړه ګډ راپورونه ترلاسه کړل. په ۹۴ ولسوالیو کې هلته چې سیمه ایز پولیس شتون لري، ډېری خلکو په امنیتي وضعیت کې د ښه والي خبره کړې، که څه هم یوناما د سیمه ایزو پولیسو د جلب و جذب او ارزوني د بهیر لپاره د شته پالیسیو او همدارنګه په یو شمېر ولسوالیو کې د هغوی لخوا د بشري حقونو د سرغړاوي پېښې ثبت کړېدي. د یوناما راپور زیاتوي چې د افغانستان د دولت په هغو هڅو کې چې موخه یې د سیمه ایزو پولیسو مسؤول کنټل دي، ښه والی ترسترګو کېږي، خو بیا هم سیمه ایزو پولیسو په یو شمېر سیمو کې د مصؤنیت په درلودلو سره د بشري حقونو څخه سرغړاوي ترسره کړېدي. پداسي حال کې چې تاکل شوي په راتلونکي کې د سیمه ایزو پولیس شمېر ۴۵۰۰۰ کسانو ته ورسېږي، دا اړینه ده چې د کورنیو چارو وزارت پر سیمه ایزو پولیسو باندې خپله څارنه او د هغوی لخوا ځواب ویل زیات کړي.

یوناما په ۲۰۱۲ کال کې د وسلوالو ډلو لخوا د ملکي وګړو په وړاندې د بشري حقونو مخ په زیاتېدونکي سرغړاوي ثبت کړي چې ددې ډول ۲۸ پېښو په پایله کې ۶۲ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتي ده. پدې پېښو کې هدفي وژني، سرې تښتوني، ګواښونه، ویروني، آزار او اذیت، د مالیاتو په زور اخیستل، د ښوونځیو اشغالول، د ښوونکو په وړاندې ګواښونه او جنسي تیري شامل دي. د دې ثبت شوو سرغړونو ډېری برخه په فاریاب او کندز ولایتونو کې دي.

د دې وسلوالو ډلو د شتون او بیا راپېدا کېدو مهم عوامل، چې یو شمېر یې د سیمه ایزو ادارو سره تړلي دي او نور بیا په خپل سري توګه په ځانګړې توګه د هیواد په شمالي او شمال ختیځو سیمو کې فعالیت لري، په لېږې پرتو سیمو کې د دولت ضدو وسلوالو پراخه شتون دی چې په نوموړو سیمو کې د هغوی په وړاندې او یا هم له یاغیانو څخه د خپلو سیمو د ساتلو په موخه جګړه کوي. نور عوامل یې د مسؤلیتونو د لېږد په بهیر کې د امنیتي تشو شتون، سیاسی بې ثباتي او عمومي ناآرامي ده. ددې وسلوالو ډېری برخه چې د مصؤنیت په شتون کې یې فعالیت کړیدی، کومې اداري ته مسؤول نه وو او ځکه یې نو ملکي وګړو ته یو جدي ګواښ را پېښ کړی دی.

د یوناما راپور وړاندې زیاتوي چې په افغانستان کې اوس هم وسلواله جګړه په داسې لارو چارو عادي افغانان زیانمنوي چې د مرګ او ژوبلې په احصایو کې نه څرګندېږي. د جګړې له امله پراخه تاوترخوالی اوس هم د افغان ملکي وګړو ژوند ګواښي، اخلالوي یې او زیان ورته رسوي. په یوشمېر سیمو کې د وسلوالو ډلو پراختیا، د دولت پیکه شتون او د دولت ضد وسلوالو پیاوړې ولکه معمولاً پدې مانا ده چې ملکي کسان د مخ په زیاتېدونکو ګواښونو له کبله د پناه اخیستلو هیڅ ځای نلري.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې میرمن جورجیت ګنیان وویل:" که څه هم په ۲۰۱۲ کال کې په وسلوالو نښتو کې کم شمېر افغان ملکیان وژل شوي وو، خو د جګړې له امله د پیداشوي تاوتریخوالي له امله د زرګونو افغان ماشومانو، ښځو او سړو ژوند او سوکالي د جدي ګواښ سره مخ دي. دا وضعیت ایجابوي چې په ۲۰۱۳ کال کې او له هغې څخه وروسته باید آن د افغان ملکیانو د ژوند د خوندي کولو لپاره لا زیاته ژمنه او هڅې ترسره شي."

**په وسلوالو نښتو کې د ملکیانو د خوندیتوب په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ کال د کلني راپور څخه د یو شمېر افغان ملکیانو څرګندوني/توضیحات:**

**د ۲۰۱۲ کال د دسمبر د میاشتې ۱۲ مه نېټه د کندهار ولایت د یوې ولسوالۍ چیرته چې په پراخه کچه ځمکني ماینونه شتون لري، یوه دولتي چارواکي وویل:** پدې ولسوالۍ کې د ملکي وګړو ژوند خورا زیات ستونزمن دی. له یوې خوا کله چې طالبان په لارو او سړکونو کې ماینونه ښخوي، نو ملکیان د طالبانو له ډاره نشي کولای چې ښخ شوي ماینونه شنډ کړي. که چیرې یې شنډ کړي، طالبان به هغوی ووژني. له بلې خو دولت پر خلکو باندې فشار راوړي چې ورته ووایې چې طالبان ولې او چیرته د دوی په کلیو کې ماینونه ښخوي. خلک نه د طالبانو او نه هم د دولت ځواب ویلای شي. ملکیان د دواړه تر منځ بند پاتې دي او له دې کبله تل په ستونزه کې دي. داسې کوم درېیم لوری نشته چې د خلکو خبرو ته غوږ کېږدي او د هغوی ستونزې هوارې کړي.

**د ۲۰۱۲ کال د مې د میاشتې په ۸ مه نېټه په بلخ ولایت کې د ځمکنۍ جګړې پرمهال د یوه ټپي شوي ملکي وګړي ورور وویل:** زما ورور د جګړې د دواړو لورو تر منځ په جنګ کې بند پاتې وو. یاغیانو هغه لومړی په خېټه کې دوې مرمۍ وویشت او ټپي شو. هغه وروسته ورو ورو د دولت پلوه ځواکونو خواته ورغی تر څو هغوی ورسره مرسته وکړي، خو ناڅاپه هغه بیا په پښه کې پر مرمیو و لګېد، خو دا ځل د نړیوالو ځواکو له لوري چې دوی پرې د یاغیانو ګمان کړی وو. جګړې یو ساعت دوام وکړ او زما ورور ژر د ځایي خلکو لخوا د بلخ روغتون ته یوړل شو.

**د ۲۰۱۲ کال د جولای د میاشتي په ۱۳ مه نېټه د لغمان په ولایت کې د ښځو چارو د وژل شوې رئیسې لور وویل:** زما مور، پلار، ورور او دوه خویندو په بازار کې سودا اخیسته او خپل موټر یې د امنیتي اندېښنو له کبله د ښځو چارو د ریاست څخه بهر درولی وو. وروسته تر هغه چې هغوی زما د کوچیني خور لپاره څپلی واخیستي، بېرته موټر ته راغلل. زما مور تل د طالبانو او د هغو قربانیانو د کورنی د غړو لخوا چې هغې ورسره مرسته کړې وه، گواښونه کېدل.

یوناما په جنگ کې ټولو ښکېلو لورو -- دولت ضد وسلوالو او افغان او نړیوالو ځواکونو- ته لاندې سپارښتنې کوي تر څو د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې په راټیټولو کې خپلې قانوني ژمنې عملي کړې او د هغوی ژوند لاخوندي کړي:

**دولت ضد وسلوال:**

- د تشخیص او توپیر، تناسب، او احتیاطي گامونو اصولو ته د درناوي په گډون، د نړیوالو بشري قوانینو رعایتول او همدارنگه ملکیانو ته دداسې یوه تعریف ورکول چې د نړیوالو بشري قوانینو سره سمون ولري.
- دداسې چلند اصولو او لارښوونو عملي کول چې له مخې یې خپلو جنگیالیو ته لارښوونه وکړي چې د ملکیانو د مرگ ژوبلې څخه مخنیوی وکړي او ملکي کسانو ته د مرگ ژوبلې د اړولو په گډون، د هغو کسانو سره چې ددې ډول لارښوونو څخه سرغړاوی کوي، باید ورسره حساب او کتاب وکړي.
- د نړیوالو قوانینو سره سم، په سملاسي توگه د ملکي خلکو عمدي وژنو او په نښه کولو ته د پای ټکی کېږدي او هغه فرامین چې له مخې یې پر ملکیانو بریدونه کېږي او هغوی پکې وژل کېږي، ژر تر ژره ترې صرفنظر وشي.
- د هر ډول پرسونل ضد ماینونو او چاودېدونکو توکو کارول و درولي او د ځمکنو ماینونو د ناتاره کارولو، په ځانگړې توگه د ځانمرگو بریدونو او په عامه ځایونو او نورو ملکي ځایونو کې د ماینونو له ښخولو څخه په کلکه ډډه وکړي. خپلو پلویانو ته داسې لارښووني صادرې کړي چې له مخې یې د غیرقانوني او ناتاره وسلو، لکه د فشاري ماینونو پر کارولو باندې بندیز و لگېږي.
- ټولو وژنو، شکنجو، او ناوړه چلند او د بشري حقونو څخه دې ته ورته نورو سرغړاویو ته، په تیره بیا د متوازنو قضایي کړنو له لارې خلکو ته د مرگ د سزا اورولو ته د پای ټکی کېږدي.

**د افغانستان دولت:**

- د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزلو او هغوی ته د هر ډول اړینو مرستو د برابرولو هڅې زیاتې کړي تر څو دوی و توانېږي چې په اغیزمنه توگه سره د ملکیانو ژوند خوندي کړي.
- د یوې داسې دایمي دولتي ادارې د جوړولو له لارې چې د ټولو اړوندو امنیتي ارگانونو استازیتوب وکړي او دا صلاحیتونه ولري چې د ملکیانو د مرگ ژوبلې پېښې و څېړي او تعقیب یې کړي، د مسؤولیت منني کچه لوړه کړي او له هغه سره مرسته وکړي.
- د ځمکني ماینونو او نورو چاودېدونکو توکو د دولتي ستراتېژۍ پلې کولو ته لومړیتوب ورکړي او داسې هڅې ترسره شي چې موخه یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د سوق او ادارې د ظرفیت لازیاتول وي او په اغیزمنه توگه سره د ځمکني ماینونو او نورو چاودېدونکو توکو د موندلو او شنډولو عملیات په لاره واچوي.
- پداسې حال کې د سیمه ایزو پولیسو پروگرام د پراختیا په حال کې دی، د سیمه ایزو پولیسو د جلب او جذب، ارزونې، څارنې او د عدلي تعقیب له لارې د مسؤولیت منني میکانیزمونه پیاوړي کړي او د ځایي ولسونو سره په همکارۍ، په ځانگړې توگه د ولسوالی په کچه، د بشري حقونو څخه د سرغړاویو مخه ونیسي، د هغوی لخوا د مسؤولیت منني اصل ډاډمن کړي او د نړیوالو ځواکونو او مرسته کوونکو په ملاتړ ځایي ولسونه لاخوندي کړي.
- ټولې نادولتي ولسوالي ډلې بې وسلې او دموبیلیزه کړي او داسې اقدامات پورته کړي چې ددې ډلو لخوا د ترسره شوو بشري سرغړاویو څېړنه ترسره کړي.

**نړیوال ځواکونه:**

- د جنگي هوایي علمیاتو اړوندو تکتیکي لارښوونو او عملیاتي طرز العملونو بیاکتنې ته، په ځانگړې توگه د هغو معیارونو په پام کې نیولو ته چې پر هدف د برید څخه د مخه د هغه د تشخیصولو او تعینولو لپاره اړین گڼل

کېږي، ادامه ورکړي. د افغان دولت سره په همکارۍ د هغو پېښو په اړه چې پکې ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتي وي، د ارزونو او څېړنو ترسره کولو ته ادامه وکړي.

- د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره خپلو مرستو ته ادامه ورکړي ترڅو ډاډمنه کړي چې دوی د سوق او اداري په برخو کې کافي امکانات په واک کې لري، ښه روزل شوي او په ښه توګه سره سمبال دي او کولای شي چې په اغیزمنه توګه سره د ځمکني ماینونو او نورو چاودېدونکو توکو د موندلو او شنډولو عملیات ترسره کړي.

- د افغان دولت د هغو هڅو سره خپلې مرستې زیاتې کړي چې موخه یې د ملکیانو د مرګ ژوبلې راټیټول، څېړل او د مسؤولیت منني د اصل ډاډمنول دي.

- د روڼتیا/شفافیت، مسؤولیت منني او د زیامنو شوو افغان کورنیو او ځایي ولسونو سره د ملکي مرګ ژوبلې د پېښو په اړه د آیساف د څېړنو د پایلو او موندنو د چټک خپراوي له لارې د ښو اړیکو پراختیا ته ادامه ورکړي او د ملکي مرګ ژوبلې په پېښو کې د تورنو کسانو سره د انضباطي یا تأدیبي اقداماتو او د پېښې قربانیانو ته د مناسب او سېستماتیک جبران یا غرامت د ورکړې له لارې دا ډول پېښې تعقیب کړي.







**AGE** – دولت ضد وسلوال
**PGF** – دولت پلوه ځواکونه

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**